
روغانیوال
خپرندویه ټولنه

نعتیه غورچاڼ

# وا مدني یاره!



Download from:aghalibrary

راټولوونکی

محمد رسول وفادار نظري

نعتونه

# وا مدني یاره!

[غورچاڼ]

راټولوونکی

محمد رسول وفادار نظري

Download from:aghalibrary

روغانیوال
خپرندویه ټولنه

## د کتاب خانګړنې:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | وا مدني یاره ! [نعتیه شعري غورچاڼ] |
| راټولوونکی: | محمد رسول وفادار نظري |
| کمپوز: | وفادار نظري |
| ډیزاین چارې: | منصور فیصل |
| خپرندوی: | روغانیوال خپرندویه ټولنه-جلال آباد |
| چاپشمېر: | ۱۱۰۰ ټوکه |
| چاپ وار: | لومړی |
| کال: | ۱۳۹۸ل ل/۲۰۱۹م |

د چاپ حقوق له خپرندوی سره خوندي دي

برېښنايي کوونکی : عزت الله سلطانزی
اړیکې : +93706912702
https://T.me/Ezatullah_sultanzai
https://m.facebook.com/ezatullah.sultanzai

دا کتاب د باور کتابتون څخه ښکته شوی
https://bawar.net
باور کتابتون

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from:aghalibrary

**ډالۍ!**

خپلې ګرانې او پتمنې مور ته، چې د وخت له انقلابونو سره یې په زړورتوب مبارزه وکړه او د ژوندانه څرک یې راته وښود.

***

او خپل مشر ورور احمد نبي (سلطان نظري) ته چې تل یې د بریا په لور هڅولی یم

**وفادار نظري**

Download from:aghalibrary

انتخاب وفادار نظري
شاعر غالب

# حمد شریف

الله الله--الله الله--الله الله--الله الله
واړه جهانونـه دي قـایم پـه سـتا پـه طاقـت ربـه
تــه یــې ورکــوونکی د دوزخ او د جنــت ربــه

خومره انبیاء چې دي په خپـل مقـام ګلونـه دي
مونږ له دی راکړی خومره ښکلی دی حضرت ربـه

واړه کتابونـه، صـحیفې یـې منسـوخ کـړي دي
مـونږ لـرو قربـان عظـیم الشـان د هـدایت ربـه

هر څو که نمرود اورونـه بـل خلیـل الله تـه کـړه
تا ورته ګلونـه کـړل پـه خپـل کامـل قـدرت ربـه

تا یونس له ژوند د ماهي خېټې کې ورکړی دی
تـا یوسـف سـاتلی پـه کـوهي کـې سـلامت ربـه

تا موسی فرعون ته د فرعون په کور لوی کړی دی
یک تنها باچا یې ستا مقام دی ډېر اوچت ربه

ډېر لوی بادشاهت دې وه ورکړی سلیمان ته
بیا هم وه محتاجه ستا هر دم په هر ساعت ربه

واړه انبیاء او اولیاء ستا غلامان دي
ته په ټولو بریې ته لرې ډېر فضیلت ربه

ستا په حکم ورځ په شپه او شپه په ورځ بدلـه شي
رنګ په رنګ وختونه راولې په خپل حکمت ربه

ونې قلمونه دریابونه که سیاهیانې شي
وایمه غالب پوره به نه کړي ستا صفت ربه

***

انتخاب: وفادار نظري

شاعر: بېتاب رودوال

# (((وا مدني یاره)))

رب خو مې دې درولي، نور له دغې ښاره
تـا لــره درتلـل غــواړم، وا مــدنـي یـاره

زه مدینـــه نـــور، غواړمـــه پـــه شـــور
ســـتا د هجــرت كـــور، مـــالره ټكـــور
درشـــــم پـــــه كـــــوم لـــــور
وركــه ده زمــا ځینــې ســتا د وطـن لاره

پروت یم په عجم كې، وير او پـه مـاتم كـې
څو به یـم سـتم كـې، اوسـمه پـه غـم كـې
شـــپې غـــواړم حـــرم كـــې
هیلـه مـې پـوره نـه شـوه ډېـر یمـه ناچـاره

ســتا ســپیڅلې مینـــه، دا ښــاغلې مینـــه،
پاكـــه ښـــكلې مینـــه، مـــا منلــې مینـــه
مـــــا ســـــاتلې مینـــــه
زړه كې مې لیكلې ده سـتا پـه نـوم نامـداره

***

انتخاب: محمدصابر "احمدي"(س)
شاعر: وفادار نظري

د خوږ جانان د شنې روضې په انتظار دی
زړګـي مې نـاقرار دی

خفه خفه پرېشان پرېشان دی
ستا د ليدلو په ارمان دی
ښايسته ښايسته رنګين رنګين ګلزار ګلزار دی

ها د کونينو معتبر ته
هغه د ښکلي حسن لمر ته
زما د يار وطن ښايسته بهار بهار دی

خوږه نګاره ستا په مينه
چيغې نارې فرياد کوينه
ستانه جدا مې ټول ژوندون په سور انګار دی

بغیر له تـا مـې ژونـد بـدرنګ دی
نور په عجم کې مې زړه تنګ دی
سوی بدن مې پـه بېلتـون کـې خـواروزار دی

ســـتاینه وکـــړه د روئیـــداره
محمدرســـوله وفـــاداره
خـوږه رسـوله سـتا روضـې پسـې بیمـار دی

***

انتخاب: احسان الله (همدرد)
شاعر: رياض الله

ما بوځې مدينې ته، د پاک رسول روضې ته
زما کله هېرېږي، د ګلو باغيچې ته

دا سوال مې د سبحان دی
په زړه کې مې ارمان دی
ياد شوی مې جانان دی
که ورېږې شم جنګلې ته

انوار پرې را ورېږي
عالم ور له چليږي
زړه کله مې صبرېږي
جنت دې نظارې ته

شپه او ورځ پکې بهار دی
چې په پروت پکې سردار دی
پرې فضل د غفار دی
دګلــــــوګلدســــــتې تـــــــه

مـزار مــې شـین یـادیږي
د لمــر پــه شـان ځلیــږي
محبــوب پکــې اوســیږي
قـــــرار لـــــري ســـینې تــــه

دا زه ریـــــاض الله یـــــم
او ناســت پــه تمنــا یــم
غمجــن غجمــن خفــه یــم
یـــــم پـــــروت د رب اســـــرې تـــــه

***

انتخاب: محمد اصف (سیفي)
شاعر: ملنګيار

هــــره ســــا ده هــــر دم پـــــه وتــــو
وايـــــه وايـــــه الله، الله هـــــو
هـــم پـــه ناســـته پـــه ملاســـته پـــه تلـــو
وايـــــه وايـــــه الله، الله هـــــو

عظـيم نــوم دې رحمــان دی الله
ذکـــر خـــوږ د جانـــان دی الله
د عاشـــق ديـــن ايمـــان دی الله
پـــه ابـــادو پـــه شـــاړو ميـــرو

هغـــه زړه چـــې الله لـــري يـــاد
تل به خلاص وي لـه غـم او فساد
پــه تسـليم د الله بـــه وي ښـــاد
رقيبـــان يـــې کـــه ډېـــر وي هـــر خـــو

یــادوه پــاک الله تــل مــدام
د ژونـدون لـه شـروع تـر انجـام
هم د زړه هـم د خـولې پـه کـلام
چــې شــي خــلاص لــه غمــو اندېښــنو

دامن ګیـر د خپـل پیـر ملنګ یـار
یــار د یــار وي خــادم خــدمتګار
څه چې وایـي همـدا بې ده لار
دا بــې ژونــد دی همــدا یــې ارزو

***

انتخاب: روحان الله (ظاهر)

شاعر: محمدرسول (وفادار نظري)

د غفلت خوب نه را بيدار شئ مومنانو
رمضان راغلی
وا مسلمانانو رمضان راغلی

په خپل کلام کې الله وايي رمضان راغلی
د پاکې مياشت فرضيت را ښايي رمضان راغلی
روژه فرض شوې د الله په بندګانو

د رحمت ور پرانستل کيږي رمضان راغلی
د جهنم هر باب بنديږي رمضان راغلی
د غم محشر راغلی نن په شيطانانو

هر پشلمي کې برکت دی رمضان راغلی
په احاديثو کې ثابت دی رمضان راغلی
دغه عزت دی د حضرت د امتيانو

د اللهــم لَــکَ صُــمْتُ ـ رمضــان راغلــی
وَعَلــی رِزْقِــکَ اَفْطَــرْتُ ـ رمضــان راغلــی
د روژه مــاتې ده دعــا روژه دارانــو

کړه تراویح لمونځ دغه میاشت کې ـ رمضان راغلی
هم نوافل اذکار دې میاشت کې ـ رمضان راغلی
محمــد رســول وفــادار وایمــه نبکــانو

***

انتخاب: وسیم اکرم
شاعر: جهادمل

بوتـــان نســـکور شـــولو کســـرا ونړېدلـــه
پـــه راتلـــو، دې نبـــي شـــوله دنیـــا بدلـــه

تورتم بـدل پـه سپین سهر شـو، د نیا شـوه رڼا
ختـم خـزان موسـم بهار شـو، دنیـا شـوه رڼـا

د خوشـــالۍ نـــه مکـــه ټولـــه زنګېدلـــه

کفـار پـه چیغـو چیغـو ژاړي، پرېشان ښکارېږي
خي مشورې يو بـل نـه غـواړي، شیطان ژړېږي

چـې کلـه تـه شـولې پیـدا د مکـې ګلـه

ظلم وحشت په ختمېدو شو، جهان شو بدل
بوتان هر خای په ماتېدو شو، انسان شو بدل

د نور جلوه دې لور په لور وپړکېدله

ستا په راتلو جهان روښان شو، غمونه ورک شول
تیارې رڼا بل چراغان شول، ظلمونه ورک شول

خنګه تازه وه چې غوټۍ وغوړېدله

هم اولین او اخرین یې، نامداره نبي
ته رحمة اللعلمین یې، نامداره نبي

شمار جهادمل کړه امتیانو کې رسوله

***

انتخاب: قاضي ملا (عادل)
شاعر: عباسي

❀

خنګه به درشم ستا تر دره

قربان دې شمه

خوره پیغمبره قربان دې شمه

مخ مې شو تور تلې مې شنې شوې
د ثواب کار ته ملا ماتی یم دلبره
په ګناه سترې یمه تربی
خیر دی اقا کړه مې سېرآب ستا له کوثره
چې د عسیان په رنخ بیمار وې
ستا په امت کې له ما بل نشته بدتره
ته مې اسره یې لږ وګوره
زما جولی او سر تور سر ته نازپروره

ته مې شافع شه په محشر کې
زه عباسي درته فریاد کړم د زړه سره

❀❀❀

انتخاب: ضیاء الرحمن ضیاء
شاعر: جهادیار

وبــه کــړې نظــر د کــرم مــا بېنــوا تــه
مــا پــه ځنځیــر بنــد ورولــي؛
رسول الله ته

مخــامخ ورتلــی نشــم، زه ترېنــه شــرمېږمه
هلتــه ودرېــدی نشــم، زه ترېنــه شــرمېږمه
زه ډېــر گنهگــاریــم کتــی نشــم دلربــا تــه

وبــه گــوري ماتــه چــې راغلــو امتــي زمــا
بنــد پــه بنــد تړلــی دی راغللــو بنــدي زمــا
حبیــب تــه نظــر وکـړي خــدای بــه نــه گــوري گناه تــه

هر چاته زارۍ به کړم هلته مې که څوک بوځي
چیغې او نارې به کړم هلته مې کـه څـوک بـوځي
زه ډېــــر گنهگـــاریـــم لاس زمـــا وتــــړی شـــاته

چیغې او نارې به کړم څوک راپسې مـه راځـئ
محبوب ته څوگیلې به کړم څوک راپسې مه راځئ
هلتـــه خفـــه مـــه شـــئ جهادیـــاره پـــه ژړا تـــه

***

انتخاب: وفادار نظري

شاعر: میا جمعه گل

✿

څه سرې لمبې دې پورته کيږي له ګوګله

تر څو به سوزې

وه ګرانه کابله، تر څو به سوزې

په ګل سينه دې اور بليږي

دا څو لسيزې دې ښادي ونه ليدله

پردو دې شته شتمني لوټ کړه

بچي دې بوخت دي په جنګو کې يو تر بله

څه تونـد طوفان دې په سينه څي

لوپټې غورځي د ملالې له اوربله

په چور وحشت يې ترښه لوټ کړل

د يادګار نښې د ايوب له پګړې وله

د کابل خوار زخمي ټټر ته

اوس ورته اوښکې تويوه ميا جمعه ګله

***

انتخاب: صفت الله (وفا)
شاعر: رفيق (حقيار)

خــــواره واره دي پــــرې د زرو غلافونـــــه
اى حاجيــانو دغــه بيــت الله دى
ورنــــه كــوئ پــــه مينــــه مينــــه طوافونــــه
اى حاجيــانو دغــه بيــت الله دى

دا مخــــامخ ورونــــو كعبــــه ده
بيـــــت الحـــرام ده بيــــت الله ده
وربــــږي تــــل پــــرې د اســــمانه رحمتونــــه

لبيــــك لبيــــك وايــــئ پــــه مينــــه
چــې مــو صــفا شــي د زړه وينــه
ورتــــه راځــــي د لــــرې لــــرې عالمونــــه

درتـــه ســـوالونه کـــوي خونـــد
خـــدای تـه رازونـه کـړئ څرګنـد
وکـــړئ پـــه زور الله تـــه چيغـــې فريادونـــه

ښنـــه غـــواړئ لـــه غفـــاره
لـــه الهـــي پروردګـــاره
چـې درتـه معـاف کـړي الله واړه ګناهونـه

خدايـه مـا وغـواړه خپـل در تـه
دې نـوراني ښـکلې منظـر تـه
رفيـق حقيـار درتـه کـوم دغـه سـوالونه

***

انتخاب: رحمت هادي (عادل)
شاعر: جان حسین

❀

د خلیـــــل کلـــــی دی
دګرانـــې هـــاجرې د اســـماعیل کلـــی دی
زړګیـــه خبـــردار شـــه

زړګیـــه ډېـــرېـــې احتـــرام کـــړه
پـــه هـــر قـــدم ورتـــه ســلام کـــړه
د خلیـــــل کلـــــی دی
ډېـرګـران بـې انتهـا پـه رب جلیـل کلـی دی

دلتـــه پیـــدا نبـــي احمـــد دی
دلتـه یـې کـور دا یـې مهلـت دی
د خلیـــــل کلـــــی دی
زینت لـري ښایســت د لـوی جمیـل کلـی دی

دلتـــه نــــازل دی ایاتونــــــه
ځکـه یـې ښـکلي دي خـږ غرونـه
د خليــــــــل کلـــــــی دی
بـــار بـــار ورتـــه راتلـــو د جبرائيــل کلـــی دی

دلتـــه سـکون امـــن ســرور دی
دلتـــــه کعبـــــه د الله کـــــور دی
د خليــــــــل کلـــــــی دی
ســـاتلې ځکـــه رب پـــه ابابيـــل کلـــی دی

دی جـــان حســـين زړگيـــه ژاړم
دلتـــه دې پـــاک الله نـــه غـــواړم
د خليــــــــل کلـــــــی دی
قســـم دی دا دګتـــې د تحصـــيل کلـــی دی

***

انتخاب: مطیع الله (بابړی)
شاعر: حمزه وزیر

څم څم مدینې ته څم هلته مې جانان اوسي
دا زما د زړه قرار ښکلی په ماګران اوسي

دا زما د زړه ارمان کله روغېدای نشي
تن کې مې موجونه کړي کله تم کېدای نشي
ټول یکې غلبېل غلبېل ستړی په جهان اوسي

دا دشنې روضې جانان لرې دی ورتلی نشي
لاړل د حاجیان کاروان نوره صبرېدای نشي
لاره کې جوتې وهي تل دی په ارمان اوسي

دغه اولین نبي ده هم اخرین نبي
زړه مې پرې بایللی ده رحمت عالمین نبي
نه راځي خوبونو کې څکه په لړزان اوسي

ګرځي په وصال کې یې لاره کې یې تودې وهي
غرونو ګړنګونو کې لیبک دی نارې وهي
اوښکې مې روانې دي خاخي په ګرېوان اوسي

مه یې کړه په کور تپوس نشته هم په کلي کې
کوم خوا پټې لاړ شو مونږ دغه غمځپلي کې
دغه دی حمزه وزیر خړ په بیابان اوسي

***

محمداسماعیل (ذبیح)
شاعر: مطمئین

حـــال قاصـــده تـــه راوړه تـــه راوړه تـــه راوړه
درد د ســـــــوي زړه راوړه زړه راوړه زړه راوړه

اور د بېلتانـه کـې نـور، زړ ده چـې لمبـه شـومه
بې د یـار د ذکـر نـه، هـر څـه کـې هسته شـومه
مانـه یـې یـو څـه راوړه څـه راوړه څـه راوړه

نـور د دغـو خلکونـه، کاشـکې ګمـراه شـوی وې
پـروت پـه مدېنـه کـې وې هلتـه اوسـېدلی وې
بـاد د روضــې تــه راوړه تــه راوړه تــه راوړه

نوره به تـرې لـرې کـړي، مانـه د هجـران شـیبې
نور مې ته نصیب کاندې خاص د مـدینې کـوڅې
نـــور جـــدایي مـــه راوړه مـــه راوړه مـــه راوړه

ماتــه د دلبــر پــه روی، ښــار د مــدینې گــران دی
هر څه په دې سیمه کې، خاص راته پــه دې گـران دی
کــانې یـــې د غــره راوړه غــره راوړه غــره راوړه

نــور د مطمــئن زړگــی، وســو د هجــران پــه اور
خــاورې د درگــاه د یــار، بــولي د زړگــي ټکــور
خــاورې یـــې د پلـــه راوړه پلـــه راوړه پلـــه راوړه

***

انتخاب: سلیمان فقیري
شاعر: حماس

ټوله دنیا په تا رڼا شوه حسنداره نبي
نورالانواره نبي نورالانوار
تا کړو روښانه هر دیار په هره لاره نبي
نورالانواره نبي نورالانوار

په الله ګران رسوله، د زړه درمان رسوله
لاړې معراج ته د الله سره راز داره نبي
چې رهنما یې زمونږ، ښکلی پېشوا یې زمونږ
تمام عالم ته هدایت شولې نامداره نبي
شوی د نبیانو امام، د مرسلانو امام
الله درکړی لوی اعزاز دی جلوه داره نبي
دا ستا صفت دی قرآن، ته یې محبوب د سبحان
تاج د لولاک باندې موصوف یې ته تاجداره نبي

دېر ناقراریمه زه، په زړه بیماریمه زه
ای د حماس د سترګو تور د زړه قراره نبي

***

انتخاب:
حسیب الله (محبت بهرام خېل)

❁

ورځمـه مصـطفی خیرالبشـر مـدني تـه
لاس اچـوم لمـن د پیغمبـر مـدني تـه

ورځمـــه پـــه زارو زارو بـــه هلتـــه کړمـــه نـــارې
چې ای د خدای رسوله شولې ورانې زمـونږ چارې
د خدای پـه در کـې وکـوه سـوالونه پـه څـو وارې
چې سم کړي مونږه بیا د پاک اسلام پـه سـمې لارې
را تاو کړل قافلې زمونږ رهبـر مـدني تـه

ورځمـــه نـــه تـم کېـږم وسـیله نـه لــرم بلــه
روضـې د محمـد کـې بـه نـارې وهـم چـې هلـه
نښـتې نـــن ســبا مســلمانان دي يـــو تـــر بلـــه
خـدمت کـوي کـافر تـه خپـل وطـن کـې لا پخپلـه
لښکرې زمـونږ اړې دي افسـر مـدني تـه

ورځمه چې تنګ شوی یم ژوند خو مې نور چوي
چې ګورم مسلمان ته د کافرو میندې روي
په دې فاني دنیا کې ترې جوړ شوي دي تور لوي
کافرو نه دوی مخکې د دوزخ په لمبو سوي
ورځمه ناوختیږي ووړم خبر مدني ته

ورځمه خو که پرې مې ږدي نژدې خپلې روضې ته
لاسونه به کړم وړاندې د روضې ښکلې پنجرې ته
باران د اوښکو سر به نبي خپل کاندي سینې ته
وسله مې پکار نه شوه ځکه راغلم وسیلې ته
سوغات کې مې راوړی ځکه سر مدني ته

***

انتخاب: رضوان الله (مسلمیار)
شاعر: عبدالجلیل (توحیدیار)

کلي په کلي کور په کور جوړې لانجې دي
هر ځای خطرې خطري دي، دا څنګه زمانه شوه؟

عدل انصاف نشته په چا کې
ظلم ستم کيږي دنيا کې
د قيامت را ښکاره شوي نشاني دي

مسلمان خپلو کې جنګيږي
خاونده دا به څه چل کيږي
وطن مو سوزي ځای په ځای بلې لمبې دي

څوک د وطن نه مسافر شول
کلي په کلي در په در شول
د چا په لاسو کې پرتې نن زولنې دي

په غم کې ډوب هر مسلمان دی
په مونږ راغلی امتحان دی
ډېرې مشکلې په دنیا کې ورځې شپې دي

کله چې ډېر شي ګناهونه
د الله بند شي نصرتونه
د توحیدیار عبدالجلیل رښتیا کیسې دي

***

انتخاب: عتيق الله (اسير)
شاعر: جهادمل

د بـلال يـو خـوږ اذان يـې، د ملالـې هـر داسـتانه
پرهرونـه دې ټکـور شـه، اى زخمـي افغانسـتانه

د نـازو د اوربـل گلـه، مېړنـى اوسـې اتلـه
د ميـرويس نيکـه ټاټوبيـه، پـه تـا وياړمـه کابلـه

څه ځواني درنه قربان شوې، ستا په نـوم بانـدې جانانـه

کارنـامې لـرې بـې شـماره، وه د سـروگلونـو هـاره
د ښپانـده سـيندو شـور دې، دښـمنان کړلـو بـې واره

همـېش تـا مينـه راکـړې، زمـا د هيلـو ترجمانـه

لکـه گـل داسـې زیبـا یـې، خراسـان یـې اریانـا یـې
تاریخونــه دې چــې گــورم، قهرمــان تــه د دنیـا یــې

خړې خاورې دې سره زر دي، غیرتمن کور یې بې شـانه

هر بچی دې ابدالي دی، هر یو ځـوان دې غزنـوي دی
ښـکلی کـور یـې د غازیـانو، مېړنـی دې هـر زلمـی دی

زرغونې دې شـه خړوبې، جهادمـل بانـدې ډېـر گرانـه

***

انتخاب: سعید قرار
شاعر: بېتاب (رودوال)

غـــوره دې محبوبـــه هـــره چـــاره ده
کــــړې دې خـــواري زمـــونږ لپـــاره ده
مونږه ته دې پرېښې ښـکلې لاره ده

چـا چـې د الله او سـتا رضـا بانـدې عمـل کـړی
ذا څرګنـده شـوې ده چـې ديـن يـې مکمـل کـړی
هـــره طريقـــه دې مزېـــداره ده

ســتا پــه لاره تلـل حبيبـه نـېـغ تـر جنتونـو دي
هلتـــه اوســبدل بيـــا د مـــزو او عزتونـــو دي
هسې زندګی هـم بـې اختيـاره ده

تــا زمـــونږ لپـــاره تکلیفونـــه برداشـــت کــړي دي
ډېر ډېر دې په تن باندې زخمونه برداشـت کـړي دي
هــره خـــاطره دې حســـنداره ده

ډېــر زیــات ګنهګــار محبوبــه زه بیتــاب رودوال یمــه
ته مې چې شفیع یې بس په دې باندې خوشـال یمـه
ډېره د محشر ورځ زمـا خـواره ده

***

انتخاب: وفادار نظري

شاعر: عبدالجلیل (توحیدیار)

را خوره شوې يې خوشبو په ټول جهان ده
ښــکلی گـــل گـــل زمـــا جانـــان ده
خیرالبشر مدني خومره په خـدای گـران ده
ښــکلی گـــل گـــل زمـــا جانـــان ده

پـــه مدینـــه کـــې یـــې روضـــه ده
خدایه مـا ورولـې پـه زړه مـې دا ارمـان ده
غمخـــوار نبـــي د خپـــل امـــت دی
او شـفاعت بـه مـو کـوي دا مـو ایمـان ده
رب دی ســـتایلی پـــه قـــرآن کـــې
گران محمد عربي دوست د پاک سبحان ده
پـــه مدینـــه منـــوره کـــې
د رحمتونـو پـه شـیبو شـیبو بـاران ده

ورخـم ورخـم بـه مـدینې تـه
عبـدالجلیل توحیـدیار خـوښ عربستان ده

***

انتخاب: عبدالمالک (مظلومیار)

شاعر: دوست محمد (مجروح)

حرم د بیت الله نه طوافونه خوند کوي
په خواکې د محبوب مې سلامونه خوند کوي

تړلی يې احرام وي عجیبه غوندې منظر وي
لبیک لبیک نارې وي هر سړی په چیغو سر وي
په مخ د هر انسان اوښکې رودونه خوند کوي

روان وي ډلې ډلې ځي مسجد عایشې ته
نیت وکړي د تسلیم نه بیا تیار شي چې عمرې ته
راځي چې بیت الله ته دا وختونه خوند کوي

زمزم اوبه چې وڅښي بیا وخیژي صفا ته
شروع وکړي صفا نه بیا په مخه ځي مروا ته
د بي بي هاجرې دا عادتونه خوند کوي

مینـــا مزدلفـــه کـــې تـــل قبلیـــږي دعاګـــانې
پـــه ورځ د عرفـــات وي هـــره خواتـــه ژړاګـــانې
شیطان بانـــدې د کـــاڼو ګذارونـــه خونـــد کـــوي

مجروح دوست محمد ستایي خالقـه دا سـتا در
بیا بیا یې دیدن غـواړي هـر شـام او هـر سـهار
په وصف یې د حرم کې دا شعرونه خوند کـوي

***

انتخاب: نجم الهدا (هدایت)
شاعر: محمدرسول (وفادار نظري)

❀

هجـــر کـــړم زخمـــي پـــه زړګـــي نـــاقرار
تېـــرې شـــوې مـــودې انتظـــار کـــې د یـــار

بغیـر لـه تـا ژونـد نـه تیرېـږي زمـا
ستا کارنامې هر وخت یـادېږي زمـا
سکون قرار او صبرېدل نـه کـوي
ستاسو چم کلـی نـه هیرېـږي زمـا
کـړم بـه ځـان لـوګی او قربـان لـه تـا ځـار

د مـــدینې منـــورې حبیبـــه
قربان شم ستا د شنې روضې حبیبـه
له تا به ځان فـدا فـدا کـړم یـاره
د نور خورې مو دې شغلې حبیبـه
کلـه بـه یـې ګـورم پـه ژونـد سـتا مـزار

بـلال دې مينـه کـې سـتم قبلـوو
په محبت کې يـې هـر غـم قبلـوو
په سم او غر هم پـه بيـدياگرځېـدو
د حضور عشق کې يې مـاتم قبلـوو
ځـــار دی هـــر عاشـــق لـــه دلبـــر او دلـــدار

د حمزه پرې شول پرې غوږونه پوزه
کړل د زمرې په شان يې تل جنگونـه
د شـــهادت پـــه وينـــو ولمبېـــدو
ويـې ليدلـه هغـه خونـد او مـزه
چيغـــه کـــړه د مينـــې منصـــور بيـــا پـــه دار

زړگـی زخمـي پرهـر پرهـر لرمـه
درنـه جـدا د ژونـد سـفر لرمـه
محمد رسول وفادار کړم دا اقـرار
د پاک رسول پـه شـان دلبـر لرمـه
خـــدای بـــه مـــې نصـــيب کـــړي ديـــدار د رونيـــدار

***

انتخاب: عابدالله (عظيمي)

شاعر: همايون (محصون)

بپلتونه خدايږو مدينې ته ځمه
ما پرېښې ده زه د يار روضې ته ځمه

په مقبره د يار وريږي انوار
د رحمتونو خزانې ته ځمه

خورې ورې پکې دلکشې جلوې
د مدينې هغې جلوې ته ځمه

چې عاشقان يې نظارو ته ورځي
کله به دغې منظرې ته ځمه

چې د محبوب په ښکلي مخ مئين وه
د تور بلال اذان خانې ته ځمه

تا همايون يم محصور کړی بند کې
کله به زه پاکې جنگلې ته ځمه

***

انتخاب: احمدالله (حامد)
شاعر: کفایت الله (راشدجان)

ربیع الاول میاشت کې شوه رڼا وځلېده
پیدا رسول الله شو لو دنیا وځلېده

ځرګند د امنې بې بې په غېږ کې نوی ګل شو
نړدې یې کړو سینې ته په موسکا وځلېده
کاینات کې زنګاوات پیدا شو، هر څه په سجده شول
د مینې او تعظیم پوره معنا وځلېده
تورتم تیارې شوې ختمې او د جهل مانۍ ړنګې،
د لمر د نور شغله په سپین صبا وځلېده
په هره خوا خوښي شوه، په جامو کې نه ځاېدل وو
په هره خوله او هر زړه کې دعا وځلېده
اسمان کې پاک الله او ملایکو میلاد جوړ کړو
په ترخ کې یې بوه هیله د عیسیٰ وځلېده

کفایت الله جانه پسرلی او نوبهار شو
پُر اَمنه خوشالي په هره خوا وځلېده

***

انتخاب: سید عمران شاه

شاعر: عثمان غمگین

چــې تاتــه نـــه ژاړم نـــو ربـــه چاتـــه وژاړم
چـې تاتـه نـه غـواړم نـو د بـل چـا نـه وغـواړم

بـــل در د غوښـــتو ماتـــه او بـــل رب را وښـــايه
چـې څمـه دې د ملکـه کـده بـل خـوا ونغـاړم
کنـه تـه مـې مـولا او زه بنـده نـو زه حقـداریـم
سـرتور ښـې ابلـه ښـې دې څکـه در کـې ولاړیـم
راکوې به څه چې غواړم خامخا تـه مـې مالـک یـې
هـــر څـو کـــه د دنیـــا پـــه گنـــاهونو لتـــاړیـــم
د هـــر څـــه ذمـــه واریـــې زمـــا رب العـــالمین
ښـايي چـې سـتا ثنـا صـفت پـه مینـه ووايـم

دنیـا او اخـرت کـې د عثمـان غمگـین اسـره یـې
بل هېڅوک نشته ربه چې خپـل ځـان پـرې وسـپارم

***

انتخاب: منصور فیصل
شاعر: نصیب الله خوش نصیب

خه ښایسته ښکلی زیبا یې ګران رسوله
د زخمي زړونو دوا یې ګران رسوله

یا ثاني دې په دنیا کې چېرته نشته
د جهان یوه ښکلا یې ګران رسوله
تا د جهل تیارې واړه کړې روښانه
تورو شپو ته سپین سبا یې ګران رسوله
رب ستایلی په طه او په یاسین یې
انبیاوو کې اعلی یې ګران رسوله

خوش نصیب (نصیب الله) ته دومره ګران یې
په نعتو کې دې هم ستایې ګران رسوله

انتخاب: الله محمد (صافی)

شاعر: شوکت علي (فدا)

دا دنیــــــا غمونـــــــه دي
تـــــل پکـــــې دردونـــــه دي
راشه که ژوند غواړې د قـرآن، پـه لار خوندونـه دي

دلته زنـدګي د یـو څـو ورځـو ده
بیـا تـرې رخصـتونه دي، سـخت دګـور مزلونـه دي

چا چې دا تګـلاره خپلـه کـړې ده
مــــل یــــې راحتونــــه دي، ښـــکلي جنتونـــه دي


دا چې له قرآن نه لـرې شـوي یـو
دا مــو حالتونــه دي، کــور پــه کــور جنګونــه دي

دا د تفصـیلي ایمـــان لپـــاره دی
دې کــــې حکمتونــــه دي، ښـــکلي ایاتونــــه دي

ای شوکت علی د حق په لاره کې
ډېــر کــه تکلیفونــه دي، دومــره یــې اجرونــه دي

***

Download from:aghalibrary




Designed by: Ab. Hadi Asar

روغانیوال
خپرندویه ټولنه
۰۷۷۶۷۶۴۳۷۰
۰۷۹۳۰۰۳۰۳۹